


Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library




Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کتاب پېژندنه

||||||||||||||||||||||||||||||||

د کـتـاب نـوم : لوی اختر او مقدس مقامونه

لیکوال :: علامه محمد معین الدین أبوالفضل

خـــپـرونـکـــی: بېنوا انټرنېټ پاڼه

د چاپ ټول حقوق له لیکوال او بېنوا پاڼې سره خوندي دي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لوی اختر او مقدس مقامونه

نحمده ونصلي على رسوله الكريم

أما بعد : فأعوذبالله من الشيطن الرجيم بسم الله الرحمن الرحيم.

و الفجر وليالٍ عشر ( صدق الله العلي العظيم ).

قدرمنو مسلمانانو ! په دې وجه چې د حج د مَراسمو د ادا کولو وخت ، او د ذي الحجې مبارکه میاشت ، او د لوی أختر مبارکي ورځې او د قربانۍ او د لوی أختر د لمانځه مبارک وختونه راروان دي ، نو په دې سبب زه غواړم چې په هغو موضوعګانو کښې ځانګړي ، عجیب او مُفصل بیانونه وتاسو ته تقدیم کړم ، کوم چې له دغي مبارکي میاشتي او له دغو مبارکو موسمو سره خاص بیا د حج له مقدسي فریضې او د لوی أختر له باعظمته مراسمو سره تعلق لري .

خو په سر کي باید ووایم چې د حج د فضیلت او د منافعو په اړه د محاسن الإسلام په ( ۱۴ ) برخه کي موږ په خورا عجیب او نادر طرز کښي ډیر مفصل بیان کړئ دئ ، نو په دې وجه په راتلونکي وخت کښي به د لاندي موضوعګانو په باب و تاسي محترمو ته تفصیلات وړاندي کړه سي:

اول :ـ د ذوالحجې ( یعني د لوی أختر د میاشتي ) د اولو لسو ورځو عظمت او په همدغو ورځو کښي د طاعت او عبادت فضیلت.

دوهم :ـ په دغو مبارکو ورځو کښي د تاریخي پیښو بیان.

دریم :ـ د مقامات مقدسه وو په اړه نا أشنا او نادیر معلوماتونه ، لکه کعبه شریفه ، حجر أسود ، مقام إبراهیم ، د زمزم اوبه و غیره.

څلرم : ـ د لوی أختر په مبارکو ورځو کښي د عیدګاه د لمانځه او د قربانیو شرعي او سیاسي فلسفې او فضائل او په دې اړه دیني أحکام .

لومړئ د دغو لسو مبارکو شپو او ورځو و فضیلت ته ځیر سی !

دذوالحجې ( یعني دلوی اختردمبارکي میاشتي ) ړومبنی لس شپې او ورځي چي ایام العشر یې بولي یا عشرذی الحجة ورته ویل کیږي، داسلام د مقدس دین له نظره اودارنګه دتاریخي واقعاتو په إعتبار اوله دي سره سره دفیض اوبرکت اوالهي رحمتونو دراجلبولو په حیث په خورا عقل حیرانونکي ځانګړي ډول شرافت اوفضیلت لري.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



همداسبب دئ چي الله جل جلاله دقران کريم د � والفجر � په سورت کښي په همدغومبارکو لسو شپو سره قسم کړيدئ لکه چي فرمايلي يې دي

)والفجروليال عشرٍ . (

يعني قسم کوم زه په سهار (يعني په سهاردورځي دلوی اختر) اوپه شپولسو١٠ ( يعني چي اولي لس شپي دلوی اختردمياشتي دی) .

له حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چی رسول عليه السلام فرمايلي دي (مامن ايام العمل الصالح فيهااحب من هذه الايام يعني ايام العشرقالوا يارسول الله ولاالجهاد في سبيل الله قال ولاالجهاد في سبيل الله الارجل خرج بنفسه وماله فلم يرجع من ذالک بشئ ) رواه البخاري کذافي رياض الصالحين .

يعني په ورځو کي هيڅ داسي ورځ نسته چي صالح او نيک عمل دي په دوی کښي و الله ( جل جلاله ) ته ډير محبوب وي له دغو ورځو څخه ، يعني چي د لوی أختر د مبارکي مياشتي اولي لس ورځي دي.

له حضرت عائشي ( رضي الله عنها ) څخه روايت دئ چي د يو ځوان دا عادت ؤ چي کله به د ذي الحجې ( يعني د لوی أختر مياشت ) رابره سوه نو ده به په روژو شروع وکړه ( يعني ددغي مبارکي مياشتي په ړومبيو نهو ورځو کي بي پرلپسې روژه نيوله ) يو چا ددغه ځوان دغه عادت د إسلام و پيغمبر ته ورساوه ، نو د اسلام پيغمبر دَی و خپل حضور ته راوباله ، کله چي دغه ځوان دده مبارک په حضور کښي حاضر سو ، نو د إسلام پيغمبر له ده څخه پوښتنه وکړه چي کوم شي ته باعث کړئ يې پر دې باندي چي په دغو ورځو کښي روژه نيسې ؟

دغه ځوان ورته وويل چي اې د خدائ رسوله ! ځما مور او پلار دي تر تا قربان سي ، دغه مبارکي ورځي خو د حج د مناسکو د ادا کولو ورځي دي نو زه ددې اميد کوم ( يعني په دې کار کښي چي په دغو ورځو کښي روژه نيسم ) ددې چي الله ( جل جلاله ) به ما د حج کونکيو په دعا ګانو کي ورسره شريک کړي.

نو د اسلام پيغمبر ( صلی الله عليه وسلم ) ورته وفرمايل چي : نو تاته به الله ( جل جلاله ) د هري روژې په بدل کښي دونه ثواب درکړي چي هغه به برابر وي له ثوابه سره د هغه سړي چي سل (١٠٠ ) مرييونه ازاد کړي او سل اوښي قرباني کړي او سل اسان د غزا په لار کښي و مجاهدينو ته ورکړي . (انتهی مختصراً ، کذا في تنبيه الغافلين) .

له حضرت جابر رض روايت دئ چي نبي ( صلی الله عليه وسلم ) فرمايلي دي چي : هر څوک چي په دغو لسو ورځو کښي روژې ونيسي نو د هري ورځي د روژې په بدل کښي به الله پاک د پوره يوه کال د روژو ثواب ورکړي .

له حضرت علي ( کرم الله وجهه ) څخه روايت دئ چي نبي ( صلی الله عليه وسلم ) فرمايلي دي چي : کله د ذي الحجې لس ورځي شروع سوې ، نو کوښښ کوی په طاعت کښي ؛ ځکه دا داسي ورځي دي چي الله ( جل جلاله ) فضيلت ورکړئ دئ ، او شپه او ورځ يې يو شان او په يوه ډول حُرمت او عزت لري ، نو هر څوک چي په اخيري

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دریمه حصه کښې د یو شپې له دغو لسو شپو څخه څلور رکعته لمونځ وکړي په دې ډول چې په هر رکعت کښې یو واري � الحمد لله � او � قل أعوذ برب الفلق او قل أعوذ برب الناس � او درې واره � قل هوالله � تر پایه پوري او درې واره � اية الكرسي � ووايي ، بيا چې کله له لمانځه څخه فارغ سي نو لاسونه پورته کړي او داسي ووايي :

سبحانَ ذي العزةِ والجبروت ، سبحانَ ذي القُدرةِ والملكوت ، سبحانَ الحيِّ الذي لايموت ، لاَإله إلا هو ، يحي و يميت و هو حَي لايَموت ، سبحان اللهِ ربِّ العبادِ والبلادِ والحمدُ للهِ كثيراً طيباً مباركاً على كُلِّ حالٍ ، الله أكبرُ كبيراً ، ربُّنا جلَّ جلالُه وقدرتُه بكل مكانٍ.

بيا چې څرنګه يې خوښه سي هغه رنګه دُعا وکړي ، نو الله ( جل جلاله ) به و ده ته دونه ثواب ورکړي چې هغه به په مثل د ثواب د هغه چا وي چې حج وکړي او زيارت د قبر د نبي ( صلى الله عليه وسلم ) وکړي او جهاد في سبيل الله وکړي ، او نه به و غواړي هيڅ شئ له الله تعالى څخه مګر الله به وده ته هغه شئ ورکړي .انتهى

همدارنګه هر څوک چې په دغو لسو ورځو کښې په طاعت او عبادت ځان مشرف کړي ، نو الله ( جل جلاله ) به اته ٨ کرامات و ده ته ورکړي:

اول : برکت په عمر کښې.

دوهم : زيادت په مال کښې.

دريم : حفاظت او ساتنه د عيال دده .

څلرم : تويول د ګناوو دده .

پنځم : دوچنده کول د نيکيو دده .

شپږم : اسانه ګرځول د سَکراتو د مرګ پر ده باندې .

اوم : رڼا او روښني لپاره د لير کولو د تيارو د قبر و غيره له ده څخه .

اتم : درنه ول د تلي د نيکوعملو دده .

او هر څوک چې په دغو ورځو کښې و يو مسکين ته خيرات ورکړي نو دونه ثواب به ورکړ سي لکه څوک چې ونبي يا ورسول ته صدقه ورکړي ، او هر څوک چې په دغو ورځو کښې د يو مريض او ناروغ پوښتنه وکړي نو دوني ثواب به ورکړسي لکه يو څوک چې د ټولو اولياوو او ابدالو حال پرسي وکړي ، او هر څوک چې له يوې جنازې سره د يوه مسلمان ولاړ سي په دغو ورځو کښې نو ګواکي دَی د ټولو شهيدانو له جنازې سره ولاړئ ، او هر څوک چې په دغو ورځو کښې پر يوه يتيم باندي لطف وکړي نو الله تعالى به د قيامت په ورځ دَی د خپل عَرش تر سايې لاندي کړي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



، او هر ځوک چي په دغو ورځو کښې و یوه مجلس ته له مجلسوڅخه د عِلم حاضر سي نو ګواکي دَی حاضر سو و مجلس ته د ټولو نبیانو او رسولانو .

)کذا قال الغوث الأعظم الشيخ عبدالقادر الجيلاني ، في كتابه : الغنية لطالبي الطريق الحق. (

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په ليالي عشر کښي تاريخي پيښي:

اوله ( ۱ ) تاريخي پېښه:

د ذي الحجې ، يعني د لوی أختر په اوله لسيزه کښي الله ( جل جلاله ) په عرفات کښي د حضرت آدم ( عليه السلام ) توبه قبوله کړه ، چي تفصيل بې وروسته راسي .

دوهمه ( ۲ ) تاريخي پېښه :

په دغه مبارکه لسيزه کښي حضرت إبراهيم ( عليه السلام ) د خليليت په مقام مشرف سو ، او ددې عُمده عوامِل څلور شيان وو:

اول :ـ دا چي حضرت ابراهيم ع خپل زړه د الله تعالی و تعلق او محبت ته خالي کړئ ؤ.

دوهم :ـ دا چي د نمرود و اور ته ور واچول سو او په دغه حالت کښ يې داسي مکمل تفويض د خپل ځان و الله ( جل جلاله ) ته وکړ چي جبرئيل ورته وويل چي که دي څه حاجت وي راته ووايه ! ده مبارک په جواب کي ورته وفرمايل چي و تاته حاجت نلرم ، بيا جبرئيل ورته وويل چي و الله پاک ته خپل حاجت ذکر کړه ! نو ده ورته وفرمايل چي د الله تعالی عِلم ځما پر حال باندي کفايت کوي له دې څخه چي په خوله سوال ورته وکړم .

دريم :ــ دا چي ده خپل مال او هستي و ميلمنو او مسافرو ته صرفه کړې وه ، حتی چي ده مبارک به بې ميلمانه بيخي خوراک نه کاوئ ، که به هر څونه موده ميلمه پيدا نسو نو دَی مبارک به وږئ ګرځيدئ.

څلرم :ـ دا چي کله له الهي لوري د خپل ځوی حضرت اسماعيل ع په قرباني کولو سره مأمور سو ، نو د الله له حکمه سره سم يې د خپل ځوی پر غاړه باندي چاړه ورکښېښووله.

دريمه ( ۳ ) تاريخي پېښه :

د کعبې شريفي بنا هم حضرت إبراهيم ع او إسمعيل ع په دغو ورځو کښي وکړه .

څلرمه ( ۴ ) تاريخي پېښه :

حضرت موسی ( عليه السلام ) په کوه طور کښي په مناجات او په کليميَت سره په دغو مبارکو ورځو کښي مشرف سو.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پنځمه (۵ ) تاريخي پېښه :

و حضرت داؤد ( عليه السلام ) ته چي د کوم مغفرت او بخښني ذکر په قرآن کريم کښي راغلئ دئ هغه هم په دغو ورځو کښي تر سره سوئ دئ .

شپږمه ( ٦ ) تاريخي پېښه:

د حُدَيبيې په ورځ چي يو زر (۱۴۰۰) څلورسوو او يا په بل قول ( ۱۵۰۰) أصحابو د سمرې تر درخته لاندي له رسول الله ( صلی الله عليه وسلم ) سره بيعت وکړ ( کوم چي په بيعت الرضوان سره مشهور دئ ) هغه هم په همدغو مبارکو ورځو کښي ؤ.

اوس مطابق له ذکر سوي وعدې سره ددې خبري و تفصيل ته پام وکړئ چي د حضرت آدم ع د توبې د قبلولو صورتحال پر څه ډول ؤ ؟

حضرت وهب بن منبِه رحمه الله تعالی فرمايلي دي چي حضرت ادم عليه السلام چي کله له جنت څخه وځمکي ته راښکته سو نودهند پر يوه غره باندي يې درې سوه کاله ژړل په داسي حال کښي چي اوښکي بې دغره په شيلو کښي بهيدلې ، داوښکوپه وجه يې ډيري پاکيزه اوخوږې درختي راشني سوي، بياحضرت جبريل عليه السلام ورته وويل چي ولاړسه وبيت الله شريفي ته ، اوهلته ترهغه پوري صبروکړه چي دلوی‌اختردمياشتي اولي لس ورځي دربادي راځي ، بيا چي کله دغه مبارکي ورځي شروع سي نو بيرته و الله ته په توبه او استغفار شروع وکړه ، ښايي چي الله ( جل جلاله ) به ستا پر ضعف او کمزورۍ باندي رحمت وکړي ، نو بيا آدم ع و کعبې شريفي ته ځان راورساوئ بيا يې پر بيت الله باندي يوه هفته کامله طواف وکړ او تر داسي اندازې پوري يې وژړل چي اوښکي يې تر زنګنو پوري راورسيدلې او د ځمکي پر مخ باندي رواني سولې ، بيا يې داسي وويل

لآإله إلا أنت سبحانک اللهم و بحمدک عملتُ سُوءاً و ظلمتُ نفسي

فاغفر لي و أنت خير الغافرين و ارحمني و أنت خير الراحمين

نو الله پاک وده ته وحي وکړه چي اې آدمه ! په تحقيق سره رحمت وکړ ما پر ضعيف والي ستا او درومي بخښله ګناه ستا او قبوله مي کړه توبه ستا.

حضرت غوث الأعظم رح فرمايلي دي چي لکه څرنګه چي د آدم ع په دغو ورځو کي الله پاک توبه قبوله کړه دارنګه هر مسلمان چي ګناوي کړي وي او په دغو ورځو کښي و الله ته توبه وکاږي نو الله پر ده رحمت کوي ، بخښنه ورته کوي او بدۍ يې الله پاک په نيکيو وربدلوي . ( کذا في الغنية ).

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د عشراتو خَمسَه وو ( یعني د پنځو لسیزو ) بیان :

بسمه تعالی!

محترمو مسلمانانو ! پنځه داسي لسیزونه دي چي له جملې د پیغمبرانو څخه پنځه پیغمبران الله پاک په هغو لسیزو سره خاص کړیدي ، چي تفصیل یې په لاندي شرحه دئ :

اول (۱ ) : د حضرت آدم ( علیه السلام ) لسیز ، کله چي الله ( جل جلاله ) حضرت حوآء (رضي الله عنها) د حضرت آدم ع د چپه طرف له قصیري او کوتاه پوښتۍ څخه پیدا کړه په داسي حال کښي چي دَی مبارک بیده ؤ ، او بیا دَی مبارک له خوب څخه رابیداره سو نو یې حضرت حوآء (رض) په داسي حال کښي ولیدله چي دده په حضور کښي ناسته وه ، بیا یې ودې ته وویل چي ته د چا لپاره یې ؟ دې مبارکي ورته وویل چي زه ستا لپاره یم!

نو حضرت آدم ع ددې اراده وکړه چي مسه یې کړي ، نو له الــهي لوري وده ته وویل سول چي تر هغه پوري به حوآء نه مسه کوې چي ودې ته ددې مَهر او ورول ورکوي ، نو آدم ع وویل:

الهي و مَـــا مَـــــهرُهَـــا ؟

یعني اې الله ! مَهر ددې کوم شئ دئ ؟

الله پاک ورته وفرمایل :

هوَ أنْ تُـــصَلــــي عَلى نَبیــــي اخیرالزمان عَشراً ، فذالک مَهرُهـا.

یعني مهر ددې دادئ چي د اخیري زمانې پر نبي باندي ( یعني چي حضرت محمـــد [صلی الله علیه وسلم ] دئ ) لس کَرَته درود ووایې ، نو دا ورول دئ ددې.

دغه لس درودونه د حضرت آدم ع لسیز بلل کیږي .

دوهم (۲) :د حضرت إبراهیم ( علیه السلام ) لسیز دئ، ودغه لسیز ته الله پاک په دې مبارک آیت کښي کښي اشاره کړېد :

و إذابتلی إبـراهیمَ ربّه بِکـلِماتٍ فأتمَّهُـــنَّ.

یعني او در یاد کړه اې رسوله هغه وخت چي ازمایښت وکړ د إبراهیم رب دده په یو څو کلمو سره ، بیا پوره کړې ده دغه کلمې ( یعني عَملي یې کړې ).

له دغو کلمو څخه مراد لَس خویونه دي چي الله پاک ابراهیم ع په هغو سره مأمور کړئ ؤ ، چي پنځه له هغو څخه په سر کښي دي چي هغه :

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱ پر ککرۍ باندي سم په نيمايي يوه او بل طرف ته د سر د وريښتانو جلاکول

۲ دبريتو کوچني کول او لنډول

۳ مسواک وهل

۴ـ ۵ په خوله او په پزه اوبه رغړول دي .

او پنځه له هغوی ځخه په نور بدن کښي دي ، چي هغه :

۱د نوکانو پرېکول

۲د بغلو او تخرگو ويښتان کښل

۳ ځان سنتول

۴ـ ۵ حلق العانة او خلالول د گوتو دي .

ودغو لسو خصلتو ته د حضرت إبراهيم ع لسيز ويل کيږي .

دريم ( ۳ ) :د حضرت شُعَيب ( عليه السلام ) لسيز ؤ ، په دغه لسيز کښي دوه قوله دي : يو قول دادئ چي دغه لسيز عبارت دئ له هغو لسو کالو ځخه چي په هغوی کښي حضرت موسی ع د حضرت شعيب ع مزدوري او شپوني وکړه .

او بل قول دادئ چي دا لسيز عبارت دئ له هغو لسو کالو ځخه چي شعيب ع هغه و الله ( جل جلاله) ته په ژړا تير کړل او د سترگو ديد يې پکښي ختم سو ، چي بيا بيرته الله پاک د سترگو ديد او غټ کرامتونه وروبخښل .

ځلرم ( ۴ ) :د حضرت موسی ( عليه السلام ) لسيز دئ ، چي په دغه مبارک آيت کښي يې ذکر راغلئ دئ:

)وَ واعدنا موسی ثلاثينَ ليلةً و أتممنا ها بِعَشرٍ . (

تفصيل ددي په مختصر ډول سره دادئ چي الله پاک و حضرت موسی ع ته وفرمايل چي ته به د طور غره ته راځې او دلته به ديرش ۳۰ ورځي تيروې او هره ورځ به روژه نيسې ، بيا به زه خپل کتاب چي تورات دئ و تاته درکوم.

نو حضرت موسی ع د لوی أختر مياشت و کوه طور ته ورسوله او هلته يې مکمله مياشت روژه ونيوله ، وروسته موسی ع ته د خپلي مبارکي خولې بوی متغير او بدل معلوم سو ، نو يې د زيتون يوه ټوټه په خوله کښي کيښودله ، په دي وخت کښي الله ( جل جلاله ) ورته وفرمايل چي اې موسی ايا ته عالِم نه وې په دې چي د روژه دار د خولې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بوۍ ځما په نزد د مشکو تر بوۍ ډیر خوشبویه دئ ، نو په سبب ددې یې وده مبارک ته أمر وکړ چي لَس ورځې به نوري روژه نیسې ، دغه لس ورځې نو د حضرت موسی ع لسیز بلل کیږي .

پنځم ( ۵ ) : د حضرت محـــمـــد ( صلی الله علیه وآله وسلم ) لسیز دئ ، چي هغه عبارت دئ له دغو ړومبنیو لسو ورځو څخه د لوۍ أختر د میاشتي .

( کذا قال غوث الأعظم الشیخ عبدالقادر الجیلاني رح في الغنیه ) . والسلام ومن الله التوفیق .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د � يوم التروية � او د � يومِ عرفة � او � عرفات � په اړه شرعي معلوماتونه:

بسمه تعالی

محترمو وروڼو ! د کعبې شريفي د بنا ، او دارنګه د نورو مقاماتو مقدسه وو په اړه د بياناتو سلسله خو به جاري ساتو خو څرنګه چي � يومُ التروية � او �يومِ عرفة� بيخي رانژدې سويدي نو په دې وجه غواړم چي ددغو دوو مقدسو ورځو په ارتباط څه تفصيل درته عرض کړم .

محترمو وروڼو ! کله چي حضرت إبراهيم (ع) د کعبې شريفي بنا او تعمير وکړ او ورڅخه فارغ سو ( چي تفصيل بې وتاسي ته د کعبې شريفي د بنا د بيان په پاته برخو کښي راسي ) نو الله پاک و حضرت إبراهيم (ع) ته حکم وکړ چي په خلګو کښي اعلان وکړه چي و دغه بيتې ته د حج د ادا کولو په خاطر راحاضر سي ، نو حضرت إبراهيم (ع) د � أبو قُبَيس � و غره ته وختئ او په ډير لوړ اواز سره يې و فرمايل :

أيها الناس ! أجيبوا ربكم إنَّ اللهَ يأمركم أن تَحِجوا بيته

يعني اې خلګو ! د خپل رَب د بلني إجابت وکړی ، بېشکه الله تعالی أمر کوي تاسي په دې سره چي دده د بيتې زيارت وکړی .

نو دغه اواز د إبراهيم (ع) د ځمکي پر مخ باندي چي کوم مؤمن سړئ يا مؤمنه ښځه وه ټولو واوريدئ ، حتی هغه چا لا هم دده اواز واوريدئ چي په دغه وخت کښي د پلرو په ملاو کښي د نطفو په شکل موجود ول ، او يا د مندو په أرحامو کښي يې قرار درلودئ ، نو دوی ټولو د إبراهيم (ع) جواب په � لَبــيکَ � سره وواېه.

په همدې سبب تر قيامته پوري په حاجيانو کښي د لبــيک لبيـــــک ويل جاري پاته دئ.

په دغه ورځ کښي چي هر چا د إبراهيم (ع) جواب په لبيک سره کړئ دئ نو هغه تر هغه پوري له دُنيا څخه رحلَت نه کوي چي د کعبې شريفي زيارت يې نه وي کړئ.

له إبن عباس (رضي الله عنهما) څخه روايت دئ چي له يِــمَن څخه يوه ډله و رسول (صلی الله عليه وسلم) ته راغله ، او وده مبارک ته يې وويل چي ځموږ مَندي او پلرونه دي تر تا قربان وي د حج له فضيلتو څخه موږ خبر کړه !

نو د إسلام پيغمبر و دوی ته په جواب کښي داسي وفرمايل چي هر سړئ چي له خپل کور څخه د حج يا د عمرې په نيت ووزي نو هر وخت چي دَی يو قدم پورته کوي او يا يې پر ځمکه باندي ږدي نو دده له قدمو څخه ګناوي داسي دانه دانه راتوييږي لکه څرنګه چي له درختي څخه ددرختو پاڼي دانه دانه رالويږي ، بيا کله چي دَی و مدينې منورې ته راسي او له ما سره په سلام اچولو روغبړ وکړي نو ملائکه له ده سره د سلام په ويلو سره روغبړ کوي ، بيا

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي کله و � ذوالحلَيفي � ته ورسي (چي د مديني منورې له طرف څخه و حج ته د راتلونکيو خلګو د إحرام تړلو ځائ دئ) او غسل وکړي ، نو الله (جل جلاله) دَی له ګناوو څخه پاک ګرځوي ، او کله چي ، يعني د إحرام دپاره دوې نوي جامې واغونځي نو الله پاک دده نيکۍ ورنوي کړي ، او کله چي بيا : لبيک اللهم لبيکَ ووايي نو الله تعالی و ده ته په � لبيکَ وَ سَعدَيکَ � سره جواب ورکوي او داسي ورته فرمايي چي :

اورم زه کلام ستا (يعني اې بنده ځما) او ګورم و طرف ستا ته (يعني په بلا کيفه کتلو سره).

او کله چي داخل سي و مکې شريفي ته بيا طواف وکړي او د صفا او مروی په منځ کښي سعي وکړي نو الله پاک ښيګڼې او نيکۍ له ده سره پيوسته کړي ، او کله چي پر عرفات باندي ودريږي او د خلګو اوازونه او ژړاوي د حٍپلو حاجاتو په غوښتلوسره پورته سي ، نو الله تعالی د اوو اسمانو پر ملائکو باندي په دوی سره فخر شروع کړي ، بيا ووايي الله پاک و ملائکو ته چي اې ملائکه وو ځما او اې باشنده ګانو د اسمانو ځما ! ايا نه ګوری تاسي و بندګانو ځما ته چي راغلي دي وماته له هره ليري ځايه څخه په داسي حال کښي چي سرونه يې ببر دي او په ګرد او غبار سپيره سويدي او مالونه يې صرف کړيدي او خپل بدنونه يې ستړي کړيدي ، نو ځما دي په خپل عزت قسم وي او ځما دي په خپله لويي سره قسم وي او ځما دي په خپل کَرم او مهرباني سره قسم وي چي خامخا به وبخښم زه خامخا ګنهګار د دوی ، له وجي د نيکوکار د دوی ، او خامخا به راوباسم دوی له ګناوو څخه په شان د هغي ورځي چي د دوی مندو و دوی ته تَئ ورکاوئ.

بيا چي کله دوی شيطانان وولي او سرونه وخريبي او بيا د کعبې شريفي زيارت وکړي (يعني د طواف زيارت دپاره) نو يو نعره کونکئ له باطن څخه د عرش داسي نعره وکړي (يعني ودغو حاجيانو ته) چي : إرجـــعوا مغفورًا لـکم.

يعني وګرځۍ و خپلو کورو ته په داسي حال کښي چي بخښه وکړه سوه تاسي لره.

پوه سه ! چي د لوی أختر د مبارکي مياشتې اتمه ورځ �يومُ التروية� بللہ کيږي ، او هغه ورځ ده چي حجاج کرام له مکې مکرمې څخه و مِنــی ته ځي ، ودې ورځي ته يوم الترويه له دوو وجو څخه ويل کيږي :

اول له دې وجی چي په دغه ورځ کښي و مِنـــی شريفي ته د روانيدلو په وخت کښي حاجيان د زمزم اوبه څښي او په دغو اوبو سره غسل کوي .

اګر چي دا کار خو حاجيان هره ورځ کوي ، خو په دغه ورځ کښي په دې کار کي دوی ډير زياتوب کوي ، خصوصًا په قديمو زمانو کښي.

دوهم له دې وجي چي د اتم په شپه حضرت إبراهيم (ع) په خوب کښي وليدل چي خپل ځوی حضرت إسماعيل (ع) ذبحه کوي ، نو کله چي سهار سو بيا يې په دغه خپل خوب کښي �تروية� يعني فکر او سوچ وهل شروع کړ ،

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي ایا دا به شیطاني خوب وي او که به رَحمـــاني وي ، او دغه ټوله ورځ یې په همدغه سوچ کښي تیره کړه ، دلوی أختر په نهمه شپه یې بیا خوب ولیدئ چي ورته وویل سول چي :

إفعَــل ما تؤمَر ، یعني اې ابراهیمه ! هغه کار وکړه کوم چي ته په أمر کیږې.

بیا کله چي سهار سو نو ده مبارک دا خبره وپیژندله چي دا خوب د الله (جل جلاله) له لوري څخه دئ ، په همدې سبب د لوې أختر و نهمي ورځي ته � یومِ عرفه � ویله کیږي .

پوه سه! چي په دې باره کښي علماوو اختلاف کړئ دئ چي و عرفات ته ولي عرفات ویل کیږي او دارنګه د عرفې و ورځي ته ولي عَـــرَفـــه ویله کیږي ؟ چي تفصل یې په دې شرحه دئ:

اول : ضحاک (رح) فرمایلي دي چي کله حضرت آدم (ع) و ځمکي ته راکښته کړ سو نو دَی مبارک په هند کي واقع سو او حواء (رض) په جـــده کي واقع سوه ، بیا حضرت آدم (ع) د حوآء طلب کاوئ او حوآء دده طلب کاوئ ، بیا د عرفې په ورځ په عرفات کښي دوی دواړه سره یو ځائ سول او یو دبله یې سره وپیژندل ، نو په دې سبب د عرفې ورځ په � عرفه � سره او عرفات په �عرفات� سره نامداره کړ سو.

دوهم : سُدَی (رح) فرمایلي دي چي عرفات ته چي عرفات ویل کیږي چي حضرت هاجر (رضي الله عنها) حضرت إسماعیل (ع) یعني هغه وخت چي دَی وړوکئ ؤ د حضرت سارا (رضي الله عنها) له حضور څخه وایستئ او یویې وړئ په دغه وخت کښي حضرت إبراهیم (ع) له کور څخه غائب ؤ ، نو کله چي إبراهیم (ع) راغئ او اسماعیل یې په نظر کي رانغلئ او حضرت ساره د حضرت هاجرې قصه ورته وکړه نو إبراهیم (ع) په دوی پسي ولاړئ ، بیا یې دوی دواړه په عرفات کښي وموندل ، نو دغه ځائ په عرفات سره مسمی کړ سو .

دریم : حضرت عطآء (رح) فرمایلي دي چي عرفات چي په عرفات مسمی کړ سو نو ددې وجه دا وه چي جبرئیل (ع) چي و إبراهیم (ع) ته کوم وخت د حج مناسک ورپیژندل نو کله چي بې یو مَنسَک د حج ، یو ځائ د عبادت په حج کښي وروښووئ نو بې ورته وویل چي اوس دي دا ځائ وپیژندئ ، بیا بې بل ځائ ورښووئ او هم هغسي بې ورته ویل.

یعني نو کله چي عرفات ته ورسیدل نو د حج ټول مناسک و إبراهیم (ع) ته وروپیژندل سول ، نو په دې وجه دا ځائ په عرفات سره مسمی کړ سو.

.....................................

د عرفې دورځي او د شپې فضیلت :

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



له إبن عمر (رضي الله عنهما) څخه روايت دئ چي ما واوريدل له رسول الله (صلى الله عليه وسلم) څخه چي فرمايل يې :

إنَّ اللهَ تعالى ينظر الى العبادِ يومَ عرفة ، فلا يَدَعُ أحدًا في قلبه مِثقالُ ذرةٍ منَ الإيمانِ إلا غَفَرَ لَه .

يعني بېشکه الله تعالى ګوري په نظر درحمت سره و بندګانو خپلو ته په ورځ کښې د عرفې ، نو نه پرېږدي هيڅ داسي يو څوک چي په زړه کښي دده قدر د يوې ذرې وي له ايمان څخه ، مګر بخښنه کوي هغه لره.

له جابر (رضي الله عنه) څخه روايت دئ چي رسول الله (صلى الله عليه وسلم) فرمايلي دي چي کله د عرفې ورځ سي نو راکښته سي الله (جل جلاله) (يعني په بلا کيفه راکښته کيدلو سره ، يا رحمت دده راکښته سي ) و سمآء الدنيا يعني و اول اسمان ته (چي فلک القمر ورته ويل کيږي ) بيا فخر کوي دَى په حاجيانو سره پر ملائکو باندي ، نو ورته وايي الله پاک و ملائکو ته چي اې ملائکو ځما وګورۍ وبندګانو ځما ته ، څرنګه راغلي دي وماته له هره ليري ځايه څخه په داسي حال کښي چي سرونه يې ببر دي او په خاورو سپيره دي ، أميد کوي د رحمت ځما او بيرېږي له عذاب ځما څخه ، نو لازم دئ پر مزور (يعني پر هغه چا باندي چي دده و زيارت ته څوک راسي ) دا کار چي عزت به ورکوي و زيارت کونکي خپل ته ، او لازم دئ پر هغه چا باندي چي ميلمه ورته راسي دا چي عزت به ورکوي و ميلمانه خپل ته ، شاهدان سۍ ! (يعني اې ملائکو) پر دې خبره باندي چي بېشکه په تحقيق سره بخښنه وکړه ما دوۍ لره ، او ومي ګرځوله ميلمستيا ددوۍ داخليدل و جنت ته.

پوه سه ! چي د عرفې و مبارکي ورځي ته � يومُ الحج الأکبر � او � يومُ المباهات � هم ويل کيږي ، او دارنګه ددغي مبارکي ورځي له نومو څخه : مشهود هم يو نوم دئ ، لکه الله پاک چي فرمايلي دي : وشاهِدٍ و مشهود .

له إبن عمر رض څخه روايت دئ چي رسول الله (صلى الله عليه وسلم) فرمايلي دي چي اګاه اوسۍ ! چي بېشکه ډېر غټ د خلګو په حيث د جرم هغه څوک دئ چي راوګرځي له عرفات څخه (يعني پر عرفات باندي ودرېږي ) بيا د مزدلفې شريفي پر طرف راروان سي او دا خيال يې وي چي الله ( جل جلاله ) به ده لره د ګناوو بخښنه نه وي کړې .

همدارنګه له إبن عباس بن مرداس (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله (صلى الله عليه وسلم) د عرفې په ورځ په عرفات کښي د أمــت لپاره د مغفرت او رحمت دُعا وکړ ه ، نو الله تعالى په جواب کښي ورته وفرمايل چي کومي ګناوي د دوۍ چي د بندګانو تر حقوقو پوري اړه نلري او ځما او د دوۍ په منځ کښي وي نو په تحقيق سره هغه ما ستا و أمت ته وروبخښلې ، مګر که په دوۍ کي ځينو پر ځنو نورو باندي ظلم کړئ وئ نو هغه نه وربخښم (يعني د بندګانو تر حقوقو نه ورتيريږم ) نو د اسلام پيغمبر بيا و الله تعالى ته عرض وکړ چي اې ربــــه ! بېشکه ته خو قادر يې پر دې باندي چي و دغه مظلوم ته ( يعني له خپله ځانه څخه ) داسي بدل او ثواب ورکړې چي هغه بهتر وي له

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مَظلَمې او حقه دده څخه ، چې پر هغه چا باندي يې لري کوم چې بر ده باندي يې ظلم کړئ دئ ، او دغه ظالم وبخښې او خلاص يې کړې.

نو په دغه وخت کښې د إسلام و پيغمبر ته دده ددغي غوښتني جواب الله پاک ورنکړ ، بيا کله چې د مزدلفې شريفي سهار سو (چې دلوی أختر د ړومبی ورځي سهار دئ ) نو د إسلام پيغمبر دغه ذکرسوې دُعا بيرته راوګرځوله ، نو الله ( جل جلاله ) په جواب کښې ورته وفرمايل چې بېشکه په تحقيق سره بخښه وکړه ما دوی لره (يعني ستا و أمتيانو ته به د بنده ګانو تر حقوقو هم ورتير سم (يعني په دې ډول چې د دوی و حقدارانو ته به د دوی له طرفه د قيامت په ورځ زه له خپله ځانه بدله ورکړم. (

بيا د إسلام پيغمبر تبسم او نرمه خندا وکړه ، نو په أصحابو کښې دده يو چا ورته وويل چې اې د خدائ رسوله ! په داسي ساعت کښې دي خندا وکړه چې عادت مبارک ستا په هغه ساعت کښ د خندا کولو نه وو ؟ نو د إسلام پيغمبر ورته وفرمايل چې د الله پاک د دُښمن إبليس له وجي څخه مي وخندل ؛ ځکه دَی ملعون چې کله په دې خبره عالم سو چې الله پاک ځما دُعا په باره کښې د أمت ځما قبوله کړه نو د � وَيل او ثُبور � نعرې يې شروع کړې .

.................................

د عرفې په ورځ د روژې نيولو ثواب:

له حضرت أبي قتاده (رض) څخه روايت دئ چې نبي (صلى الله عليه وسلم) فرمايلي دي :

صيام يومِ عرفة کفارةُ سنتين ، سنة ماضية و سنة مستقبلة

يعني د عرفې د ورځي روژه رژه ونکې د ګناوو د دوو کالو ده ، چې اول يې تير سوئ کال دئ او دوهم يې راتلونکئ کال دئ.

.................................

د عرفې په ماپښين په عرفات کښې د حضرت جبرئيل ، ميکائيل او خضير (عليهم السلام ) دعا :

له حضرت إبن عباس څخه روايت دئ چې رسول الله (صلى الله عليه وسلم) فرمايلي دي چې بري او بحري (يعني حضرت إلياس او خضير ع م ) هر کال په مکه شريفه کښې سره يو ځائ کيږي ، بيا يو له دوی وهغه بل ته دا ډول وايي:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



قل ! بسم اللهِ ماشآءالله لا يأتي بالخيرِ إلا الله ، بسمِ اللهِ ماشآءاللهُ لا يَصرفُ السوءَ إلا الله ، بسم اللهِ ماشآءالله و ما بكم من نِعمةٍ فمنَ اللهِ ، بسم اللهِ ماشآءالله و لا حولَ ولا قوةَ إلا باللهِ .

حضرت إبن عباس ويلي چي نبي (صلى الله عليه وسلم) فرمايلي دي چي هر څوک چي دغه کلمې هره ورځ وايي نو تر ماښام پوري به له غرقه ، حرقه او له هر مکروه او ناخوښه شي څخه به په أمن وي او هر څوک چي دغه کلمې ماښام ووايي نو تر سهاره پوري به د الله تعالى په حفاظت او ساتنه کښي وي .

حضرت إبن عباس دا هم فرمايلي دي چي حضرت إلياس او خضر چي سره يو ځائ سي نو هر يو د هغه بل سر هم ورخرييي .

له حضرت عــلي (کرم الله وجهه) څخه روايت دئ چي ده مبارک فرمايلي دي چي په هره ورځ کښي د عرفې په عرفات شريف کښي حضرت جبرئيل ، ميکائيل ، إسرافيل او خضر (عليهم السلام) سره يو ځائ کيږي ، بيا جبرئيل داسي وايي:

ماشآءالله و لا حولَ ولا قوةَ إلا باللهِ .

بيا ميکـائيل داســي وايي : ماشآء الله کل نعـــمَةٍ منَ اللهِ.

بيا إسرافيل داســي وايي : ماشآء الله الخيرَ کله بيدِ اللهِ .

بيا خضر (ع) داسي وايي : لا يَـــدفـــعُ الســـوءَ إلا الله .

بيا سره جلا کيږي دوى ، بيا نه سره جمع کيږي د بل کال د عرفې تر ورځي پوري.

.................................

مسلمانان به په عرفات کښي کومه دُعا وايي ؟

محترمو ورونو ! ملا علي القاري (رحمه الله تعالى) په خپل شهره آفاق کتاب � إرشاد الساري � کښي د عرفات يوه داسي له حده زياته جامع او پر هر څه باندي مشتمله دُعا ذکر کړېده ، چي په هر وخت کښي د مسلمان دپاره د وِرد او وظيفې په ډول له هر څه څخه کفايت کوي ، خو دلته يې ذکر کول بيخي ناممکن ښکاري ، دلته زه يوه داسي دُعا درته ذکر کوم چي هر مسلمان له هغې سره بيخي عادتي دئ او ډېره مختصره او د لوى عظمت والا دُعا ده ، چي هغه همدغه دعا ده چي هر مسلمان يې د التحيات په پاى کښي په هر لمانځه کي وايي چي:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ربنا آتنــا في الـــدنيا حسنة و في الآخرة حسنة وقـــنا عذابَ النار .

له حضرت أنس (رض) څخه روايت دئ چي د إسلام پيغمبر به دغه دعا بيخي ډيره ويله .

حضرت إبن جُرَيج (رح) فرمايلي دي چي په پخوا وخت كښي به مسلمان په دې أمر كيدئ چي په � مَوقَف �
يعني په عرفات كښي په أكثري ډول دده دُعا بايد همدغه دُعا وي .

له حضرت إبن عباس څخه روايت دئ چي د كعبې شريفي د رُكنِ يماني په نزد يوه پرشته له هغه وخت څخه ولاړه
ده چي اسمانونه او ځمكه الله پاک پيدا كړيدي ، او هر څوک چي دغه مذكوره دعا وايي نو دغه پرشته آمين پر
وايي.

علماءكرامو په دې اړه اختلاف كړئ دئ چي له دغو دوو حسنو څخه مراد څه دئ كومي چي په دغه دُعا كي ذكر
دي :

حضرت علي (رض) فرمايلي دي چي له اولي حسنې څخه صالحه ښځه او له دوهمي څخه د جنت حوري مراد دي ،
او له نار څخه بده ښځه مراد ده .

او حسن (رح) ويلي دي چي له اولې حسنې څخه علم او عبادت مراد دئ او له دوهمي څخه جنت مراد دئ .

او سدي او إبن حبان (رحم) فرمايلي دي چي له اولي حسنې څخه حلال، پراخ رزق او عمل صالح مراد دئ او له
دوهمي څخه مغفرت ، بخښنه او ثواب مراد دئ .

او إبن عطية (رح) فرمايلي دي چي له اولي حسنې څخه علم او عمل په دا علم مراد دئ او له دوهمي څخه اسانتيا
د حساب او دخول وجنت ته مراد دئ.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لوی أختر د مبارکو شپو او ورځو ، داراز د لوی أختر د لمانځه، أضحيې او قربانۍ کولو په ارتباط مفصل او محقق بيان:

محترمو مسلمانانو ! دغه بيان په متعددو برخو کښي درته وړاندي کوم:

## اولـــــه برخه:

د أختر ومبارکي ورځي ته � عيد � ولي ويل کيږي ؟

په دي باب علماوو بېلابيلي وجي ويلي دي : اوله وجه داده چي په دغه ورځ کي الله پاک د فرح او سرور ، يعني د خوښۍ او خوشحالۍ إعاده و خپلو بندګانو ته کوي.

دوهمه وجه يې داده چي په دغه ورځ کښي بندګان و تضرع ، ژړا او و يو داسي عبادت ته عود او رجوع کوي کوم چي په بل وخت کښي هغه عبادت نسته ، لکه د أختر لمونځ ، سرسايه او أضحيه ، او الله پاک و داسي إنعام او ورکړي ته او و داسي بخشش ته پر خپلو بندګانو باندي عود او رجوع کوي کوم چي هغه قسم إنعام په نورو وختو کښي نکوي.

دريمه وجه يې داده چي په دغه ورځ کښي بندګان و خپل أصلي حالت ته راګرځي چي عبارت دئ له طهارت او پاکوالي څخه له ګناهونو .

څلرمه وجه يې داده چي و مؤمنانو ته په دغه ورځ کښي د الله (جل جلاله) له طرفه داسي فرمايل کيږي چي : عودوا إلى منازلكم مغفورا لكم.

يعني اې مومنانو ! وګرځۍ ( له عيدګاه څخه ) و خپلو کورو ته په داسي حال کي چي بخښه د ګناوو وکړه سوه تاسي لره .

پنځمه وجه يې داده چي ځرنګه چي دغه مبارکي ورځي د أختر هر کال پر مسلمانانو باندي عود او رجوع کوي نو ځکه عيد ورته ويل کيږي .

شپږمه وجه يې داده چي په دغو ورځو کښي مسلمانان د يوه او بل و کور ته د مبارکۍ په خاطر رجوع کوي .

اومه وجه يې داده چي و دغي مبارکي ورځي ته مسافر خلګ چي څونه يې کوشش کيږي له سفر څخه وخپلو کورو ته عَود او رجوع کوي.

)كذا في الغنية للشيخ عبدالقادر جيلاني رح . (

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوهـــــــمه برخه :**

پوه سه ! چي عالم بشر چي له کومه وخته و دنيا ته راغلئ دئ نو عام له دې که مؤمنان وي او که کافران وي ، په هر قرن کي هر قوم په کال کي د خوشحالۍ او د سره راغونډېدلو داسي ورځي درلودلي دي لکه څرنگه چي په اسلام کښي د أختر مبارکي ورځي دي ، خو د مسلمانانو او کفارو د داسي ورځو په نسبت فرق په دې کښي دئ چي د مؤمن أختر د الله تعالى د رضـــا لپاره وي او د کافر أختر دشيطان ملعون د خوشحالۍ په خاطر وي.

مومن د أختر د ورځي په مناسبت چي د إجتماع او راغونډېدلو ځاۍ ته ځي نو په داسي حال کي ځي چي پر سر باندي يې تاج د هدايت وي او په سترگو کښي يې علامه او نښانه د فکر او عبرت ښکاره کېږي او غوږونه يې د حق د خبرو اوريدونکي وي او پر ژبه باندي يې د توحيد کلمه جاري وي او په زړه کښي يې معرفت ، يقين او ايمان موجود وي او پر اوږو باندي يې د إسلام پټو اچولئ وي ، او ملا يې د الله پاک د بندگۍ په کمربند تړلې وي ، او د ورتللو ځايونه يې جامعگاني او مسجدونه وي ، او معبود يې ربُّ العبـــاد و البـــلاد وي

بيا و الله (جل جلاله) ته تضرع کونکئ او له ده څخه د خپلو حاجتو غوښتونکئ وي ، او په مقابل کښي يې الله پاک دده د دعا گانو إجابَت کوي او قِسم قِسم إنعامات ورکوي او د قيامَت په ورځ د عزت او کَرامت و ځاۍ ته چي جنتونه دي ورولي.

او بالمقابل کافر چي د خپلي خوشحالۍ او د أختر په ورځ کښي و إجتماعگانو ته ورځي ، نو په داسي حال کښي ورروان وي چي د ضلالَت او گمراهي او د دُنيا اوآخرت د خُسران او تاوان تاج يې پر سر وي او پر غوږو باندي يې مُهر د غفلَت وهل سوئ وي ، او پر سترگو باندي يې حِجاب او پرده د ضلالت راغوړېدلې وي او د نفسي او شيطاني خواهشاتو نښانې له ليري لا په ده کښي ښکاره کيږي ، او پر ژبه باندي يې د شقاوَت او بدبختۍ مُهر وهل سوئ وي ، او زړه يې د کُفر او د بې ايمانۍ ظلمت او تيارې نيولئ وي ، او پر ملا باندي يې د حق د مخالفت او د شيطان د إطاعت او فرمانبردارۍ کمربند تړلئ وي ، او د ورتللو ځايونه يې هغه وي په کوم کښي چي نفساني و شيطاني او د فسق او فساد کارونه إجرا کيږي ، او معبود دده نفسي خواهشات ، شيطان او بُــتان وي ، او ورتگ بې اخير اخير د جهنم و اورته وي .

**دريــــــــمه برخه :**

پوه سه ! چي د تاريخ په اوږدو کښي په دنيا کښي څلور قسمه اخترونه و شهرت ته رسيدلي دي :

اول : د إبراهيم (ع) د مُشرک او کافر قوم أختر ، چي په قرآنکريم او تفسيرو کښي يې ذکر راغلئ دئ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوهم : د فرعونیانو أختر چي په قرانکریم کښي یې په دغه قول کښي د الله پاک ذکر سوئ دئ چي : قالَ موعدکُم یومُ الزینة.

چي په همدغه ورځ د أختر کښي د دوی د موسی (ع) او د فرعون د ساحرانو مقابله وسوه ، چي په نتیجه کښي ټولو ساحرانو پر حضرت موسی (ع) باندي ایمان راوړئ .

دریم : د حضرت عیسی (ع) د قوم (یعني د نصاراوو) أختر ، چي کله عیسی (ع) د حوارییوو په غوښتنه له الله (جل جلاله) څخه د اسماني مائدې او سترخوان غوښتنه وکړه او الله پاک دده دُعا قبوله کړه او له اسمان څخه یې دده له غوښتني سره سم مآئده او سترخوان چي پر قِسم قِسم خوراکي موادو باندي مشتمل ؤ ورته راکښته کړ ، لکه چي الله تعالی په قرانکریم کښي د حضرت عیسی (ع) له دغي غوښتني څخه په دې ډول حکایت فرمایلئ دئ :

اللهم ربنا أنزل علینا مآئدة منَ السماَءِ تکونُ لنا عیدًا لأولنا و اخرنا و آیة منک.

نو په کومه ورځ چي دغه مآئده د عیسی (ع) پر قوم باندي له الــــهي لوري نازله کړه سوه هغه ورځ د دوی دپاره د أختر ورځ مقرره کړه سوه.

څلرم : قِسم أختر د أمت د حضرت محـــــمد مصطفی (صلی الله علیه و آله وصحبه وسلم) دئ.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



محترمو ورونړو ! د لوى أختر په مباركه ورځ كي دوه ستر او عظيم الشانه عبادتونه تر سره كيږي:

اول د اختر لمونځ.

دوهم أضحية او قرباني كول .

د أختر د لمانځه د حكم په اړه د څلورو امامانو په منځ كښي څه ناڅه اختلاف موجود دئ:

د إمام أعظم (رضي الله عنه ) په نزد بنا پر صحيح او � مفتى به � قول واجب دئ.

اول په دې دليل چي د اسلام پيغمبر د أختر پر لمانځه باندي داسي مواظبت او دوام كړئ دئ چي په ټول عمر يې يو ځل هم نه دئ پري ايښئ.

دوهم په دې دليل چي دغه لمونځ بې جماعته نسي كيدلائ ، نو كه چيري واجب نه وائ نو بې جماعته به هم كيدلائ سوائ .

او شافعية او مالكية ودې خبري ته تللي دي چي د أختر لمونځ سنت مؤكد دئ او واجب ندئ.

دليل د دوى حديث د أعرابي دئ چي مشهور او صحيح حديث دئ .

او د إمام أحمد بن حنبل په نزد د أختر لمونځ فرض كفايي دئ.

د أختر د لمانځه نيت او د كولو طريقه په دې ډول ده:

نيت مي كړئ دئ د زړه له إخلاصه ، لمونځ كوم دوه ركاته د لوى أختر ، سره له شپږو زائدو تكبيرو مخ مي دئ و طرف ته د كعبې شريفي ، إقتدا مي ده په دې حاضر امام پسي ـــ الله أكبر .

وروسته له دې امام �سبحانک اللهم ... � تر پايه وايي ته بې هم ووايې ، بيا درې زائد تكبيرونه ويل كيږي او د هر تكبير له ويلو سره لاسونه و غوږو ته ورل كيږي ، په اولو دوو تكبيرو كي چي لاسونه له غوږو څخه راكښته كړې نو ايله بې نيسې او له دريم تكبير څخه وروسته به لاسونه تر نامه لاندي ونيسې لكه په نورو لمنځو كښي ، بيا دغه ركعت په هغه ډول كيږي لكه څنګه چي نور لمنځونه كيږي ، ودوهم ركات ته چي امام راپورته سي نو اول قرآئت ويل كيږي او وروسته بيا درې تكبيرونه ويل كيږي له هر تكبير سره لاسونه و غوږو ته ورل كيږي خو دلته به له هر تكبير څخه وروسته چي لاسونه له غوږو راكښته كړې نو ايله بې نيسې ، بيا امام څلرم تكبير د ركوع لپاره وايي او لاسونه و غوږو ته نه پورته كوي ته به هم دغه ډول كوې ، بيا چي كله امام سلام وګرځوي نو خطبه وايي ته به و

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خطبې ته په ډېره عاجزي او په حضور د زړه سره مطمئن او ارام غوږ نیسي ، بیا له خطبې وروسته چي دُعا کیږي نو خیال به ساتې چي دزړه په حضور او په ډېر لوی احتیاج او عجز سره په دعا کښي ګډون ورسره وکړې .

پوه سه ! چي دلمانځه په نیت کښي د تکبیرو ذکر ضروري نه دئ ، او نیت په خوله سره ویل هم ضروري نه دئ بلکي که یوازي په زړه کي وویل سي هم کفایت کوي .

قرباني او أضحية :

محترمو ورونو ! دوهم ستر عبادت په دغه ورځ کښي قرباني کول دي د قربانۍ په حکم کښي هم امامانو څه ناڅه اختلاف کړئ دئ ، د شافعیانو او حنابله وو په نزد چي دا د امام مالک په نزد هم ارجَح قول دئ ، او له امام ابویوسف څخه هم یو روایت په دغه ډول راغلئ دئ دادئ چي أضحیه او قرباني سنت مؤکده ده ، او دا قول د ابوبکر ، عمر ، بلال او أبومسعودبدري هم دئ.

او د إمام أعظم (رضي الله عنه ) په نزد أضحیه واجب ده ، او دا د امام محمد او امام زفر قول هم دئ ، او له ابویوسف او امام مالک څخه هم یو روایت په دغه شکل راغلئ دئ ، او دا د ربیعة ، لیث بن سعد ، اوزاعي او سفیان ثوري مذهب هم دئ.

)کذا في الموسوعة الفقهية . (

## د قربــــانۍ ثواب او فــــضیلـــت :

)١ : ( په � زادالمقوين � کښي ذکر دي چي په حدیث شریف کي راغلي دي چي کوم سړئ چي قدرت د قربانۍ کولو لري او قرباني ونه کړي نو دده ته داسي ښیرا کوي چي الله تعالی دي تا داسي له هر خیر څخه محروم وګرځوي لکه څرنګه چي دي زه له قربانۍ څخه محروم کړم.

)٢ : ( له حضرت علي (رض) څخه روایت دئ چي نبي ( صلی الله علیه وسلم ) فرمایلي دي چي هر څوک چي له خپل کور څخه و رانیولو د أضحیې ته ووزي نو د هر قدم اخستلو په بدل کښي و ده ته لس نیکۍ ورکړې کیږي او لس ګناوي ورڅخه محوه کیږي او لس درجې الله پاک ورکوي ، بیا چي کله د أضحیې د رانیولو په باره کښي خبره کوي نو دغه خبره دده استغفار بلله کیږي ، او هغه وخت چي د أضحیې روپۍ د أضحیې و مالک ته ورکړې نو هره روپۍ یې په اوه لکه روپو حسابیږي ، بیا چي کله دغه قرباني دَی پر مځکه باندي د ذبحه کولو لپاره غوزاره کړي نو تر اوومي مځکي پوري چي هر شئ دئ هغه دده لپاره بخښنه غواړي ، او کله چي بیا دغه قرباني حلاله کړي او وینه یې توی کړي نو له هر څاڅکي څخه د وینې ددغي قربانۍ لس پرښتې الله پاک پیدا کوي چي د قیامت تر ورځي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوري دده لپاره د مغفرت دُعا کوي ، بيا چي کله د قرباني غوښه تقسيم کړي نو د هري ګولې په بدل کښي الله پاک دونه ثواب ورکوي لکه يو مرييي چي له اولاد څخه د اسماعيل (ع) يو څوک ازاد کړي .

)۳ : ( نبي ( صلی الله عليه وسلم ) فرمايلي دي چي کله تاسي د قرباني د حلالولو اراده وکړی نو د خپل کور ټول اوسيدونکي سره راټول کړی چي د قرباني و حلالولو ته حاضر سي ؛ ځکه الله پاک بخښنه کوي و اهل بيت ته د قرباني کونکي او و هغه چا ته چي حاضر سي ودغه قرباني ته او و هغه چا ته چي ودريږي پر دغه قرباني باندي .

)۴ : ( د اسلام پيغمبر و حضرت فاطمې (رض) ته وفرمايل چي ولاړه سه او د خپلي قرباني پر سر باندي حاضره سه ؛ ځکه اول ځاڅکئ دويني چي له حلق څخه د پسه د قرباني را جلا سي نو ټول ګناهونه الله پاک تاته درعفوه کوي ، او په شمار د هر تار د وريښتانو د قرباني يوه نيکي الله پاک د قرباني کونکي په عملنامه کښي ليکي ، او د قيامت په ورځ د قرباني غوښه ، پوست او وينه د قرباني کونکي د نيکو أعمالو په تله کي ورلويږي ( انتهی مختصرًا ) .

)۵ : ( د اسلام پيغمبر فرمايلي دي چي هغه څوک چي د قرباني قدرت نلري نو څلور رکاته لمونځ دي وکړي او په هر رکعت کښي دي يو واري الحمد لله او پنځلس واره � إنا أعطيناک الكوثر � ووايي نو د قرباني ثواب به الله ( جل جلاله ) ورکړي .

)کذا في صــلوة مسعودي و الغنية. (

Download from: ketabton.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**